# پهٔ ړندو شیشو کښې وځلیدو زمونږه نبي

**28-August-2025**



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

پهٔ 28 اګست، کال 2025ء (بمطابق: 4 ربيعُ الاول شريف، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# پهٔ ړندو شيشو کښې وځليدو زمونږه نبي

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- هره ادا د ختمِ نبوت دليل
- ډير سخت آيت مبارک
- د نيکۍ دعوت د انبيائے کرامو علَيهِمُ السَّلام سُنَّت دي
- د اللہ او د رسول خليفه څوک---؟؟

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه: بياناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر بن خطّاب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، چې رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: پۀ پړقيدونکې شپه او روښانه ورځ کښې پۀ ما باندې درود زاليږئ، بے شکه چې ستاسو درود ما ته پيش کولے کيږي، زۀ ستاسو د پاره دُعا او اِستغفار کووم-[1]

**وضاحت:** د پړقيدونکې شپې نه مُراد د جُمعې (يعني ننۍ شپه) او د روښانه ورځې نه مُراد د جُمعې مبارکه ورځ ده-[2]

آنکھوں سے کیا دَرِیا جارِی اور لب پہ دُعا پیاری پیاری

رو رو کے گزاری شب ساری، اے حامیٔ اُمّت کیا کہنا...!!

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! څومره ښکلے فضيلت دے، خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږ د ګنهګارانو د پاره دُعاګانې کوي، اِستغفار هم کوي- د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُعا خو مَاشَآءَاللّٰه! شان دا دے چې بس څنګه لاس پورته

[1]... الدر المنضود، الفصل الرابع، صفحه:93-

[2]... الدر المنضود، الفصل الرابع، صفحه:93-

کړي، ټول وران کارونه سم شي- مولانا حَسَن رضا خان صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه لیکلي دي:

مَقۡبُول ہیں اَبْرُو کے اِشارے سے دُعائیں | کب تیر کماندارِ نبوت کا خطا ہو (1)

یعني د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وریزو مبارکو چې څنګه اِشاره وشي نو دعاګانې پوره کیږي، دا هٔغه مقدس غشے دے کوم چې هډو خطا کیږي نهٔ-

غور وکړئ! چې کله د رسولانو تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږ د پاره دُعا کوي نو زمونږ وران کارونه به ولې نهٔ سمیږي، لهٰذا مونږ له پکار دي چې د درودِ پاک عادت جوړ کړو، خاص طور د جُمعې پهٔ شپه (یعني د زیارت او د جُمعې ترمینځه شپه باندي) او د جُمعې پهٔ ورځ پهٔ کثرت سره درود شریف لولئ- **الله** پاک دې مونږ ته توفیق را عطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

حکمِ حق ہے پڑھو! درود شریف | چھوڑو مت غافِلو! درود شریف
پڑھ کے ایک بار، پاؤ دس رحمتیں | خُوب سَودا ہے لو! درود شریف
خُود خُدا بھیجتا ہے اُن پر درود | تم بھی بھیجا کرو! درود شریف
آخرت کے سفر کو اے بیدلؔ! | نَوشتہ تم لے چلو! درود شریف (2)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے-[3]

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د **الله** پاک د رضا

1...ذوقِ نعت، صفحه:207۔

2...نورِ ایمان، صفحه:39۔

3... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

د پاره به تړول بیان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښینم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ثُمامه بن اُثال اِسلام قبلول

ثُمامَه بن اُثال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ صحابئ رسول دے، د یَمَامَه اوسیدونکے وو- د صحابي جوړیدو نه مخکښې هغوئي د اِسلام سخت دښمن وو، یو ځل هغه د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (مَعَاذَالله!) د شهید کولو کوشش هم کړے وو- بیا پهٔ هغوئي باندې کرم وشو، پهٔ اِسلام باندې منوّر شو او صحابي جوړ شو- هغوئي اِسلام څنګه قبول کړے دے؟ د دې واقعه ډیره ښکلې ده-

د 6 هجری واقعه ده، داسې وشو چې یو ځل ثُمامَه بن اُثَال قیدي شو او پهٔ بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې پیش کړے شو- نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حکم وکړو: **دا پهٔ مسجدِ نبوي کښې پهٔ ستنه پورې وتړئ-** پهٔ حکم باندې فوراً عمل وکړے شو، ثُمامَه پهٔ ستنه پورې وتړلے شو-(1)

دا پهٔ جومات کښې پهٔ ستنه پورې ولې وتړلے شو؟ علمائے کرامو د دې ډیر ښکلے حکمت لیکلے دے، فرمائي: دې د پاره چې دا پهٔ ستنه پورې تړلے شوے وي، خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ناسته پاسته، پهٔ تللو راتللو ویني، د دیدار جامونه څښې او د دهٔ زړهٔ روښانه شي- (2) نو هم داسې وشو-

ثُمامَه پهٔ جومات کښې پهٔ ستنه پورې وتړلے شو- محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف راوړلو، اوئې فرمائیل: ثُمامَه څهٔ حال دے؟ تهٔ د خپل ځان پهٔ

---

1...بخاری، کتاب المغازی، باب وفد بنی حنیفة...الخ، صفحه: 1086، حدیث: 4372 ملخصاً۔

2...مراٰة المناجیح، جلد: 5، صفحه: 533۔

باره کښې څۀ ګمان لرې؟ ثُمامَه ووئيل: زما خيال خو ښۀ دے، که تاسو ما قتل کړئ نو يو خون کوونکے به قتل کړئ (يعنې زما بدله به اخستے کيږي)، که پرې مې ږدئ نو شُکر ګزار به مو يم، که مال غواړئ نو ووايئ! زۀ به مال حاضر کړم۔

بس هم دومره خبرې وشوې، خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته څۀ اونۀ وئيل او تشريف يې يوړلو ❁ پۀ بله ورځ يې بيا وفرمائيل: ثُمامَه څۀ حال دے؟ تۀ د ځان پۀ باره کښې څۀ ګمان لرې؟ ثُمامَه بيا هم هُغه جواب ورکړو۔ نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيا خاموشه شو ❁ پۀ دريمه ورځ بيا هم هُغه واقعه وشوه، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو، پوښتنه يې وکړه: ثُمامَه څۀ حال دے؟ ثُمامَه نن هم هُغه جواب ورکړو، اوئې وئيل: زما ښۀ خيال دے، که قتل مې کړئ نو زما بدله به اخستے کيږي، که پرې مې ږدئ نو شُکر ګزار به مو يم، که مال پکار وي نو ووايئ مال به درکړم۔

درې ورځې شوې وې، د دريو ورځو راسې ثُمامَه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ديدار جامونه څښل، ښکلې ښکلې زړۀ راښکونکې اداګانې يې ليدلې، بيا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابۀ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم ته حکم وکړو: **ثُمامَه ازاد کړئ---!!**

اَللّٰهُ اَکْبَر! تر دريو ورځو پورې يې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اعلٰی اخلاقِ کريمه وليدل، د ثُمامَه په زړۀ کښې د محبت شمع روښانه شوه، بيا حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: دا ازاد کړئ! اوس چې ازاد شي نو چرته به ځي---؟

خير! صحابۀ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم پۀ حکم باندې عمل وکړو، د ثُمامَه رسۍ يې پرانسته، ثُمامَه د جومات نه ووتو، د جومات پۀ خوا کښې يو باغ وو، هلته لاړو، د کوهي پۀ اوبو يې اودس وکړو او ځان يې پاک کړو او واپس جومات ته راغلو او کلمه يې ووئيله او مسلمان شو۔ (1)

1...بخاری، کتاب المغازی، باب وفد بنی حنيفة...الخ، صفحه:1086، حديث:4372 ملخصاً۔

گر کے قدموں پر وہ قرباں ہوگیا | پڑھ لیا کلمہ مسلماں ہوگیا

لږ ساعت مخکښې کوم چې د اِسلام سخت دښمن وو، اوس هم هغه ثُمامَه صرف ثُمامَه نهٔ بلکې **حضرت ثُمامَه** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ شو يعنې بيا د صحابيت درجې ته ورسيدو او د ټولې دُنيا د اوليائے کرامو نه يې اوچته مرتبه ومونده - بيا حضرت ثُمامَه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د خپلو جذباتو اِظهار وکړو او اوئې وئيل:

يَا مُحَمَّدُ! وَاللّٰهِ مَا كَانَ عَلَى الْاَرْضِ وَجْهٌ اَبْغَضُ اِلَيَّ مِنْ وَجْهِكَ فَقَدْ اَصْبَحَ وَجْهُكَ اَحَبُّ الْوُجُوْهِ اِلَيَّ

**ترجمه:** يعنې يا رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! پهٔ خُدائے مې دې قَسم وي! زما ستاسو د مخ نه زيات د چا د مخ نه نفرت نهٔ وو، نن د ټولو نه محبوب مخ هم ستاسو دے-

وَاللّٰهِ مَا كَانَ مِنْ دِيْنٍ اَبْغَضُ اِلَيَّ مِنْ دِيْنِكَ فَاَصْبَحَ دِيْنُكَ اَحَبُّ الدِّيْنِ اِلَيَّ

**ترجمه:** پهٔ خُدائے مې دې قَسم وي! زما د ټولو نه زيات ستاسو د دِين نه نفرت وو، اوس هم د دې دِين سره مې د ټولو نه زيات محبت دے-

وَاللّٰهِ مَا كَانَ مِنْ بَلَدٍ اَبْغَضُ اِلَيَّ مِنْ بَلَدِكَ فَاَصْبَحَ بَلَدُكَ اَحَبُّ الْبِلَادِ اِلَيَّ (1)

**ترجمه:** پهٔ خُدائے مې دې قَسم وي! ستاسو د ښار نه مې د يو ښار نه هم زيات نفرت نهٔ وو، اوس راته هم دا ښار د ټولو نه زيات محبوب شوے دے-

اُن کے جلووں میں ہیں وہ دلچسپیاں | جو وہاں پہنچا، وہیں کا ہو گیا (2)

## زړونه مُنَوَّر شول

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اخلاق، د هغوئي عادتونه، د هغوئي مبارک اندازونه به ځومره ښکلي ښکلي، زړهٔ راښکونکي وو،

1...(بخاری، کتاب المغازی، باب وفد بنی حنیفة...الخ، صفحه:1086، حدیث:4372ـ)

2...ذوق نعت، صفحه:35ـ

حضرت ثُمَامَه بن اُثال رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ صرف د هغوئي اداګانې ولیدلې، تر دریو ورځو پورې چې د هغوئي اخلاق مبارک یـې صرف د لرې نه لیدل، د دې پرې دومره اثر وشو چې کلمه یـې ووئیله او مسلمان شو۔

کیا کشش تھی سرورِ عالَم کے حُسنِ پاک میں | سینکڑوں کُفّار کو دَم میں مسلماں کر دیا
ہو گئی کافُور ظلمت، دِل مُنَوَّر ہو گئے | جس طرف بھی اُس نے اپنا رُوئے تاباں کر دیا(1)

## هره ادا د خَتمِ نبوت دلیل

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دلته د یوې ډیرې ښکلې او د ایمان تازه کوونکې نکتې خبره ده، مُسَیلِمَه کذَّاب کوم چې د نبوت د دروغو دعوې دار وو، هغه د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ ظاهري ژوند مبارک کښې د نبوت د دروغو دعوىٰ کړې وه۔ دا کذَّاب هم د یَمَامَه اوسیدونکے وو۔ حضرت ثُمَامَه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د مسلمانیدو نه مخکښې د مُسَیلِمه کذَّاب طرف ته مائل وو، هغه به یـې نبي منلو، یو ځل د هغهٔ د قاصد په طور مدینے منورې ته هُم راغلے وو۔

اوس دلته کمال ته وګورئ! حضرت ثُمامَه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ چې تر څو پورې لیدلي نهٔ وو نو تر هغې پورې یـې مُسَیلِمه کذَّاب نبي منلو، کله چې یـې د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښکلې اداګانې ولیدلې، د نزدې نه یـې د پاک دیدار شرف حاصل کړو نو کلمه یـې ووئیله او مسلمان شو۔

د دې نه معلومه شوه چې د خوږ نبي، اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پاک مخ مبارک، حُسن مبارک او ښکلې ښکلې اداګانې پخپله د ختمِ نبوت د شان دلیلونه وو، کله چې حضرت ثُمامَه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دا اداګانې ولیدلې نو پوهه شو چې مُسَیلِمه کذَّاب بد بخته دے، د ختمِ نبوت تاج خو د دې خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ سر مبارک باندې

1...قبالۂ بخشش، صفحه:19۔

کینبودے شوے دے۔

ترى صُورت، ترى سيرت زمانے سے نِرالى | ترى ہر ہر ادا پيارے دليلِ بے‌مثالى ہے[1]

وضاحت: یا رسولَ اللہ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ستاسو پاک صورت، پاک سیرت د ټولو نه ځانګړے دے، ستاسو هره یوه ادا پخپله د دې خبرې دلیل دے چې تاسو بے مثله او بے مثاله یې۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دُنیا روښانه کولو د پاره راغلے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبلغِ اعظم دے، نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هلته د نبي جوړیدو سره تشریف راوړلو چرته چې د صدو نه هیڅ یو نبي تشریف نۀ وو راوړے۔ کمال دا دے چې رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د جهالت ژورې کندې ته پریوتے قوم پۀ نیغه لار روان کړو او د زمانې اِمام یې جوړ کړو۔

الله پاک فرمائي:

لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِیْنَ اِذْ بَعَثَ فِیْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ یَتْلُوْا عَلَیْهِمْ اٰیٰتِهٖ وَ یُزَكِّیْهِمْ وَ یُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَ الْحِكْمَةَۚ وَ اِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿۱۶۴﴾ (پاره:4، سورۂ آلِ عمران:164)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: بے شکه الله پۀ ایمان والؤ باندې لوئي اِحسان وکړو چې کله یې پۀ هغوئي کښې یو رسول مبعُوث کړلو کوم چې هُم د هغوئي نه دے هغه د هغوئي پۀ مخکښې آیتونه تلاوت کوي او هغوئي پاک کوي او هغوئي ته د کتاب او حِکمت تعلیم ورکوي اګر چې دا خلق د دې نه مخکښې یقیناً پۀ ښکاره ګمراهۍ کښې پراته وو۔

---

1...ذوقِ نعت، صفحه:230۔

دا آیت مبارک مونږ مخکښې هم څو ځل اوریدلے دے، زهٔ چې کوم طرف ته ستاسو پام راګرځول غواړم نو هغه د دې آیت مبارک اخري حصه ده، فرمائي:

وَ اِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿۱۶۴﴾ (پارہ:4، سورۂ آلِ عمران:164)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: اګر چې دا خلق د دې نه مخکښې یقیناً پهٔ ښکاره ګمراهۍ کښې پراتهٔ وو-

یعني د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تشریف راوړلو نه مخکښې ټوله دُنیا خاص طور د عربو خلق ❁ پهٔ عقیدو ❁ پهٔ اعمالو ❁ پهٔ اخلاقو او پهٔ کردار وغیره کښې پهٔ هر قِسمه ګمراهو کښې اخته وو-

اَللّٰهُ اَکْبَر! هغه قوم کوم چې پهٔ هر قِسمه وروستو پاتې وو، پهٔ دُنیا کښې هر طرف ته تیارې وې ❁ شِرک عام وو ❁ د توحید د ټولو نه لوئې مرکز یعنې کعبه شریفه هم د شِرک پهٔ ګند لړلے شوې وه ❁ ژوندي انسانان به حلالیدل او کاڼو ته به یې نذرانه کول ❁ څناور هم د خپل اولاد حفاظت کوي خو د هغه دور انسان دومره پهٔ زړهٔ سخت وو چې هُم خپلې لوڼه به یې ژوندۍ ښخولې ❁ د مئیندو، خوئیندو، لوڼو د عزتونو سره به لوبې کیدلې ❁ پلار به چې وفات شو نو ځامونو به خپله مور هم د میراث مال ګڼلو، مئیندې به د وینزو پهٔ شان خرڅولے کیدلې یا به ترینه هم خپلې ښځې جوړولے کیدلې ❁ بدکاري عامه وه ❁ د شرابو، جوارۍ، غلا غُلطۍ، لوټ مار کثرت وو ❁ پهٔ ورو ورو خبرو باندې به داسې جنګونه شروع کیدل چې تر ډیرو کلونو پورې به جاري وو ❁ پهٔ معمولي شان خبره باندې به پهٔ سوؤنو بلکې پهٔ زرګونو خلق وژلے کیدل ❁ پهٔ بعضې معاشرو کښې دا رَسم هم وو چې بادشاه به مړ شو نو د هغه مړے به یې پهٔ لوئې غار کښې کیښودو، ورسره به یې خوندور خوراکونه کیښودل او ډیرو به ژوندي غلامان او وینزې هم پهٔ غار کښې پریښودې او د غار دروازې به یې ورپسې بندې کړې-

تاسو اندازه ولګوئ چې د هغه ژوندو غلامانو چې به کله ساه ختله د لوږې او تندې د

لاسه به تړقیدل نو پۀ هغوي به څۀ تیریدل خو افسوس چې دُنیا د ظُلم او سِتم پۀ تیارو کښې پریوتلې وه، اِحساس ختم شوے وو۔

د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان ته وګورئ! هغوئي داسې قوم ته پۀ خپلو اداګانو، پۀ ښو ښو اخلاقو مئین کړو او د هغوئي نه یې عالِمان جوړ کړل ❁ باطِن یې ورله ټیک کړو او زړونه یې ورله روښانه کړل! ❁ هغوئي ته یې کتاب هم وښودلو ❁ حِکمت یې ورته هم وښودلو ❁ او داسې د څلورو واړو طرفونو نه د زوال ښکار قوم یې تر قیامته پورې د راتلونکو نسلونو اِمام او پیشوا جوړ کړو۔

وہ دانائے سُبُل، خَتمِ رُسُل مولائے کُل جس نے
غُبارِ راہ کو بخشا فروغِ وادیٔ سینا(1)

# پۀ ړندو شیشو کښې وځلیدو زمونږه نبي

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خومره ښکلې خبره لیکلې ده:

سب چمک والے اُجلوں میں چمکا کئے | اندھے شیشوں میں چمکا ہمارا نبی(2)

پۀ دې شعر باندې ځان لږ پۀ توجه سره پوهه کړئ! اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خومره لویه خبره کړې ده: د مثال پۀ توګه یوه آئینه ده، پۀ هغې باندې دوړه پریوتله، کال دوه کاله پرې تیر شول، پۀ هغه آئینه باندې دوړه هم داسې پرته وه، وریسې وه انښته، هغه آئینه به ډیره ګنده وي خو بیا هم هغه آئینه داسې ده چې که هغه پاکه کړې، لمده کپړا پرې راښکلےشې، پۀ ښه طریقه د هغې صفائي وکړې شي نو هغه به د مخکښې پۀ شان وپرقیږي۔ بل طرف ته یوه آئینه ده، د هغې نه رنګ لاړو، هغې زنګ ونیولو، اوس که هغه ډیره هم ومږې، که هر خومره یې صفا کړې، هغه د مخکښې پۀ شان نۀ ځلیږي۔

---

1...کلیاتِ اقبال، بالِ جبریل، صفحه:363۔

2...حدائقِ بخشش، صفحه:140۔

www.dawateislami.net

اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللهِعَلَیۡه فرمائي: مخکښې چې کومو انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام تشريف راوړےوو، هغوئي چې د چا طرف ته راليږلے شوي وو، هغوئي د مخکښې نه ځليدلو والا وو، وګورئ چې ❁ حضرت موسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام بني اسرائيلو ته نبي وليږلے شو، بني اسرائيل د نبيانو اولاد وو، پهٔ الله پاک باندې يې هم ايمان لرلو، نبيان يې هم منل ❁ حضرت يوشع عَلَيۡهِ السَّلَام د بني اسرائيلو نبي دے ❁ حضرت داؤد عَلَيۡهِ السَّلَام د بني اسرائيلو نبي دے ❁ حضرت سليمان عَلَيۡهِ السَّلَام د بني اسرائيلو نبي دے ❁ حضرت زکريا عَلَيۡهِ السَّلَام ❁ حضرت يحيیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام د بني اسرائيلو نبيان دي ❁ حضرت عيسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام هم د بني اسرائيلو نبي دے، دا خلق د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام اولاد وو، پهٔ الله پاک باندې يې هم ايمان لرلو، قيامت يې هم منلو، د الله پاک کتابونه يې هم منل، پهٔ نبوت باندې يې هم ايمان لرلو، بس د ګناهونو پهٔ وجه د دوئي پهٔ زړونو باندې دوړه پرته وه، انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام پهٔ ډير محنت باندې، ډير پهٔ مهارت سره د دوئي د زړونو نه دوړه لرې کړه، د هغوئي پرقيدونکي خو دوړه نيوونکي زړونه يې بيا روښانه کړل، يقيناً چې هغوئي ډير کمال وکړو، خو د آمنې لال رسولِ بے مثال صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان ډير ځانګړے دے، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هٔغه قوم ته نبي راوليږلے شو، کومو ته چې پهٔ 4 زره کاله کښې هيڅ يو نبي نهٔ وو راغلے، پهٔ عربو کښې حضرت اسماعيل عَلَيۡهِ السَّلَام نبي تير شوے وو، د هغوئي نه پس بل هيڅ يو نبي عَلَيۡهِ السَّلَام د عربو د اِصلاح د پاره تشريف نهٔ وو راوړے،دغه وخت کښې د دې قوم حالت ډير خراب شوے وو، دوئي د الله پاک توحيد هم نهٔ منلو، پهٔ نبيانو باندې يې هم ايمان نهٔ لرلو، اخرت يې هم نهٔ منلو، دوئي ته هډو معلومه نهٔ وه چې نبوت څهٔ وي، د دوئي زړونه دوړو وهلي وو بلکې زنګ يې نيولے وو د ړندې شيشې پهٔ شان شوي وو- خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل بے مثله کردار پهٔ ذريعه دا ړندې شيشې روښانه کړې او د زمانې امامان يې کړل-

کھلی اسلام کی آنکھیں، ہوا سارا جہاں روشن
عرب کے چاند صدقے! کیا ہی کہنا تیری طلعت کا

## د نیکۍ پۀ دعوت کښې مشکلات

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا ړندي شيشي يعني بالکل مړۀ شوي زړونه پۀ نيغه لار روانول څۀ اسان کار نۀ وو، د دوئي حالت دا وو چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خبرې اوريدو ته هم تيار نۀ وو، د قرآنِ پاک اواز چې به يې اوريدو نو پۀ غوږونو کښې به يې ګوتې ورکولې- چې د حج موسم به راغلو، خلق به د لرې لرې نه د مکې مکرمې طرف ته راتلل نو د مکې مکرمې پۀ لارو باندې به باقاعده خلق ودرولے کيدل، د کومو چې به بس هم دومره کار وو چې هر يو راتلونکے منع کړي او هغه ته وائي چې وګورئ--!! پۀ مکه مکرمه کښې يو جادوګر دے، څوک چې د هغه خبره واوري، نو بس هم د هغۀ شي، هغه ځامن د پلار نه، خاوند د ښځې نه بيلوي، لهذاد هغۀ خبره مۀ اورئ-

## چې د قرآن اواز يې تر غوږوشو

طفيل بن عَمرو دَوسِي د عرب مشهور شاعر او ډير عقلمند وو، يو ځل هغوئي مکے مکرمې ته راغلل، د مکے کافرانو ورته ووئيل: خبردار--!! چې د مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) سره ميلاؤ نۀ شې، هيڅکله د هغۀ خبره مۀ اوره، د هغوئي پۀ خبرو کښې جادو دے، څوک يې چې واوري نو بس هم د هغوئي شي-

دا خبرې چې يې واوريدلې نو جناب طفيل پۀ دوکه کښې راغلو، هغوئي پۀ خپلو غوږونو کښې مالوچ کيښودل چې هسې نه د قرآن اواز مې غوږونو ته لاړ نۀ شي- خو اَلْحَمْدُلِلّٰہ! د هغوئي بخت رابيدار شوے وو، يوه ورځ سحر وو، دا د کعبې حرم ته راغلو چې اوئې کتل نو رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سحر پۀ نمونځ کښې پۀ تيز اواز تلاوت کولو-

اَللهُ اَکْبَر! د قرآنِ کریم پۀ شان ښکلے کلام او د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ مبارکه خُله باندې--!! قرآنِ پاک خو هسې هم زړونه روښانه کوي،خو چې کله د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خُله مبارکه باندې لوستلے شي نو بیا به د هغې اثر څنګه وي- د جناب طفیل پۀ غوږونو چې کله د قرآنِ پاک اواز ولګیدو نو ناڅاپه د ډیرې حیرانتیا نه ودریدو، یو یو لفظ د اثر غشے جوړیدو او د هغوئي زړۀ ته کوزیدو او دا ولاړ وو او اوریدو یې- کله چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نـمونځ نه فارغ شو او د کور مبارک طرف ته روان شو نو جناب طفیل هم بے تابه شو او شاته شاته ورپسې روان شو او د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خِدمت کښې یې عرض وکړو: حُضُور---!! ما ته کلمه ووایئ او خپل غلام مې جوړ کړئ! (1)

| | |
|---|---|
| اے ماهِ عرب! مہرِ عجم! میں ترے صدقے | ظلمت نے مرے دن کو شبِ تار بنایا |
| لِلّٰہ! کرم میرے بھی ویرانۂ دل پر | صِحرا کو ترے حُسن نے گلزار بنایا (2) |

## ډیر سخت آیت مبارک

صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُما فرمائي: د محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خِدمت کښې پوښتنه وشوه: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د قرآنِ کریم کوم یو آیت پۀ تاسو باندې ډیر سخت وو---؟ اوئې فرمائیل: یو ځل د حَج موسم وو، د عربو مشرکان پۀ مکه کښې راجمع وو، زۀ پۀ مِنیٰ کښې موجود ووم- هٰغه وخت حضرت جبریلِ امین عَلَيْهِ السَّلَام راغلو او دا آیت نازل شو:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الرَّسُوْلُ بَلِّغْ مَاۤ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ؕ (پاره:6، سورۀ مَآئِدہ:67) | ترجمۀ کنزُ العرفان: اے رسوله! کوم څۀ چې ستاسو طرف ته ستاسو د رَبّ له طرفه نازل کړے شو د هغې تبلیغ وکړئ- |

1...اسد الغابه، جلد:3، صفحه:77 ملخصاً-

2...ذوقِ نعت، صفحه:49-

بس د **الله** پاک پۀ دې حکم اوريدو زۀ ودريدم، ما خلقو ته اواز وکړو چې اے خلقو--!! زۀ ستاسو طرف ته د **الله** پاک رسول راليږلے شوے يم، لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰه ووايئ! او نجات حاصل کړئ--!! که تاسو داسې وکړئ نو ستاسو د پاره جنَّت دے۔

بس دا اوريدل وو نو که ماشومان وو او که ځلمي، که زنانه وې ټولو پۀ ما باندې حمله وکړه، چا پۀ ما باندې خاورې راويشتلې او چا پۀ کاڼو ويشتل شروع کړل۔ دغه وخت چا ما ته ووئيل: اے مُحَمَّد صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! که تاسو نبي يئ نو هغوئي ته د هلاکت ښېرې وکړئ! لکه څنګه چې حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام کړې وې۔

الله! الله! د محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رحمت او مهرباني ته وګورئ! څوک يې پۀ کاڼو ولي، څوک پرې خاورې اچوي، خلق ورته **مَعَاذَ الله!** د ګستاخۍ نه ډکې جُملې وائي، پۀ دغه حالت کښې رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا وکړه او اوئې وئيل: اَللّٰهُمَّ اهْدِ قَوْمِي فَاِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ اے الله پاکه! زما قوم ته هدايت اوکړې، بے شکه چې دوئي نۀ پوهيږي۔ (1)

سلام اُس پر کہ اَسرارِ محبّت جس نے سمجھائے
سلام اُس پر کہ جس نے زَخم کھا کر پُھول برسائے
سلام اُس پر کہ جس نے خُوں کے پیاسوں کو قَبَائیں دِیں
سلام اُس پر کہ جس نے گالیاں سُن کر دُعائیں دِیں

## د کافِرانو پۀ ولقه کښې

د مسلمانانو څلورم خليفه مشکل کُشا عَلِيُّ المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: کافرانو يو ځل د دوارو جهانو تاجدار، د نبيانو سردار صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راګير کړو، هغوئي پۀ نبي کريم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ظلم شروع کړو او وئيل به يې چې هُم تۀ هغه کَس يې کوم

[1]... تفسير درمنثور، پاره:6، سورۀ مائده، زيرِ آيت:67، جلد:3، صفحه:117۔

چې صِرف د يو **الله** پاک د عبادت حکم کوي- حضرت عَلِيُّ الْمُرتضیٰ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ (د چا عمر چې پۀ هٰغه ورځو كښې كم وو) فرمائي چې پۀ دې كښې حضرت ابو بكر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پہ بهادرئ سره رامخكښې شواو څه كافران يې ووهل ،څه يې راغورځاركړل ،څه يې اخوا ديخوا لرې كړل تر دې چې د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوا ته ور ورسيدو او نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يې د هٰغه ظالمانو د ولقې نه راويستو- هٰغه وخت د حضرت صِدِّيقِ اكبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پۀ مباركه خُله باندې د 24 سيپارې، د **سورةُ الْمُؤمِن** آيت نمبر: 28 جاري وو:

| | |
|---|---|
| اَتَقْتُلُوْنَ رَجُلًا اَنْ يَّقُوْلَ رَبِّيَ اللّٰهُ (پارہ:24، سورۂمؤمن:28) | ترجمۂ کنزُ العِرفان: آيا تاسو يو سړے صرف پۀ دې وجه قتل كوئ چې هغه وائي زما رَبّ **الله** دے- |

## د څادر تيزندئ

يو ځل د مكے كافران د كعبې شريفې سورې ته ناست وو او خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (د مقامِ ابراهيم خوا ته) نـمونځ كولو- عُقبه بن اَبي مُعِيط نومې كافِر د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غاړې مباركې ته د څادر تيزندئ ور واچوله او پۀ سختئ سره يې مرئ مباركې له زورر وركول شروع كړو- حضرت ابو بكر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پہ منډه راغلے او هغه (يعني عُقبه بن ابي مُعِيط) يې ترې را لرې كړو-(1)

حرم کی سرزمیں پر آپ پڑھتے تھے نمازاکثر
ہمیشہ اُس گھڑی کی تاک میں رہتے تھے بدگوہر
کوئی آقا کی گردن گُھونٹتا تھا کَس کے چادر میں
کوئی بدبخت پتّھر مارتا تھا آپ کے سر میں

---

1...المواہب اللدنیہ مع شرح الزرقانی، المقصد الاوّل، ذکر اول من امن...الخ، جلد:1صفحہ:469۔

# کوم کار چې هغوئي اوکړو نو پوره شو

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اندازه ولګوئ چې کوم خلق د خبرې اوریدو پۀ ځائے، اُلټا سخت ظلمونه کوي، د داسې خلقو پوهه کول، نیغې لارې ته راوستل به څومره سخت کار وي- خو قربان شم! د محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان ډیر ځانګړے دے- مولانا حسن رضا خان صاحِب رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ لیکلي دي:

کام جو اُن سے ہُوا پُورا ہوا | اُن کی جو تدبیر ہے، تقدیر ہے[1]

وضاحت: یعنې محبوبِ ذِیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کوم کار هم کوي، پوره کوي یـې، د هغوئي د تجویز، د ترکیب او د کار انداز مبارک د تقدیر عین مطابق وي بلکې حق خو دا دے چې څۀ خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائي، هم هغه تقدیر جوړیږي-

د قوم حالت اګر که بالکل بے حاله وو، خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ❀ چا ته پۀ معجزو ښودلو ❀ چا ته پۀ قرآنِ پاک ښودلو ❀ څوک پۀ خپلو ښکلو ښکلو اداګانو مئین کړل او ❀ چا ته یـې د ښو اخلاقو جلوه وښودله او د ځان یـې کړل او د هدایتونو معراج ته یـې وه رَسَوَل-

# د نیکۍ دعوت ورکول د انبیائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام سُنَّت دي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مشکلات برداشت کړل او د نیکۍ دعوت یې عام کړو، مونږ له هم د نیکۍ دعوت ورکول پکار دي، دا نیک کار د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت هم دے، د انبیائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام سُنَّت هم دے، د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام نه واخله تر د ټولو اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پورې چې څومره هم نبیانو تشریف راوړے، د ټولو د تشریف راوړلو اصلي مقصد هم د نیکۍ دعوت عام کول وو-

---

[1]… ذوقِ نعت، صفحه:224۔

# د بهترين انسان نخښې

**پۀ حديثِ پاک کښې دي:** چا د حُضُورِ انور، د مکې مدينے د تاجور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پوښتنه وکړه: بهترين بنده څوک دے؟ اوئې فرمائيل: د **اللّٰه** پاک نه ويريدونکے، صِله رحمي (يعني د خپلوانو سره ښۀ سلوک) کولو والا، ښو خبرو کولو والا او د ګناهونو نه منع کولو والا- [1]

# د اللّٰه او د رسول خليفه څوک---؟

اِمامِ حَسَنِ بصري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائيلي دي: څوک چې د ښو خبرو حکم وکړي، د ګناهونو نه منع کول وکړي، هغه د **اللّٰه** پاک هم خليفه دے، د هغه د رسول (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) هم او د هغه د کتاب (يعني د قرآنِ کريم) هم خليفه دے- [2]

# د نيکۍ د دعوت پريښودو نقصانونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** لکه څنګه چې د نيکۍ دعوت ورکول بهترين عبادت دے، هم داسې د دې دِيني کار پريښودل هم بد ترين جُرم دے- **پۀ رِويت کښې دي:** که مسلمانانو تبليغ پريښودو نو پۀ هغوئې باندې به ظالِم بادشاه مسلط کيږي او د هغوئې دُعاګاني به نۀ قبليږي- [3]

اَللّٰهُ اَکْبَر! **اللّٰه** پاک دې زمونږ پۀ حال باندې رحم وکړي- مونږ ټولو ته د نيکۍ پۀ دعوت عام کولو کښې لګيا کيدل پکار دي-

# يومِ دعوتِ اِسلامي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د فتنو پۀ دې دور کښې د عاشقانِ رسول دِيني

---

1...شُعب الايمان، باب فی صلة الارحام، جلد:6، صفحه:220، حديث:7950۔

2...تفسير روح المعانی، پاره:4، سورۀ اٰل عمران، زيرِ آيت:104، جلد:4، صفحه:326۔

3...تفسير روح المعانی، پاره:4، سورۀ اٰل عمران، زيرِ آيت:104، جلد:4، صفحه:326 ملتقطاً۔

تنظيم دعوتِ اِسلامي پۀ ټوله دُنيا کښې د نيکۍ د دعوت عام کولو والا تنظيم دے۔

اَلْحَمْدُلِلّٰه! دويم ستمبر راتلونکے دے۔ هر کال پۀ دويم ستمبر يومِ دعوتِ اِسلامي بنه پۀ شوق او ذوق سره نمانځلے شي۔

| | |
|---|---|
| يومِ دعوتِ اسلامی کا جشن ہے گھر گھر | مصطفٰے کے دیوانے، کیوں نہ جھومیں خوش ہو کر |
| ہم کو دعوتِ اسلامی کا ہے دیا ماحول | تیرا شکر ادا کیوں کر ہو خُدائے بحر و بر! |
| آؤ دعوتِ اسلامی پلائے گی پیاسو! | اُلفت مُحَمَّد کے خوب جام بھر بھر کر |
| جس کو دعوتِ اسلامی خُدا نے دی عطّارؔ | خوش نصیبی ہے اُس کی ہے بڑا وہ بختاور |

## دعوتِ اِسلامي کله جوړ شو

❁ شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ ستمبر کال 1981ء کښې د دعوتِ اِسلامي آغاز وکړو ❁ هغوئي دا مَدَني مقصد اختيار کړو چې **ما ته د ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي** بيا د دې مَدَني مقصد د پاره نۀ هغوئي ورځې ته وکتل او نۀ يـې شپې ته، مسلسل کوشش يـې کولوکولو، تر دې پورې چې د **الله** پاک پۀ کرم او د هغۀ د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کرم پۀ نظر سره، د اوليائے کرامو پۀ فيضان سره د دعوتِ اِسلامي دِيني پيغام پۀ ټوله دُنيا کښې عام شو۔

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ مسلسل کوششونو ❁ چې کوم بے نـمانځه وو هغوئي نـمونځ ګزاره شول بلکې د جوماتونو اِمامان جوړ شول ❁ بد نظرى کولو والا حيا دار جوړ شول ❁ د مور پلار تنګولو والا ادب کوونکي جوړ شو ❁ غلۀ ډاکوان راغلل، توبه يـې وکړه، غلاء، ډاکې يـې پريښودلې او د معاشرې شريفان انسانان جوړ شول ❁ د حَسَد پۀ وور کښې سوزيدونکي شُکر ګزاره او خير خواه جوړ شول ❁ د دُنيا د ګنده ګناهونو پۀ عشق کښې راګير د خوږ مصطفٰے، مکي مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زلفو عاشقان جوړ شول ❁ پۀ مال او دولت پسې منډې وهونکي د **الله** پاک د رضا

طلبګاران جوړ شول ❁ شرابيان راغلل، توبه يې وکړه او پاکيزه انسانان جوړ شول ❁ غافِلان راغلل او عبادت ګزاره جوړ شول ❁ بے لارې شوو ته نيغه لار ميلاؤ شوه ❁ د زرګونو کافِرانو د اِسلام نعمت نصيب شو- دغه شان يو يو، دوه دوه راتلل، د نيکئ د دعوت پهٔ دې سفر کښې د هغوئي سره شامليدل، قافله جوړيدله او اَلْحَمْدُلِلّٰه! د نيکئ د دعوت دا دِيني پيغام ټولې دُنيا ته ورسيدو-

| | |
|---|---|
| اے امیرِ اہلسنت تیری شوکت زندہ باد | تجھ سے دُنیا بھر میں ہے دِیں کی اشاعت زندہ باد |
| تیری مجلس میں گئے جو بن گئے صالح سعید | نوجواں پر ہو ترا فیضانِ صحبت زندہ باد |
| گوشہ گوشہ دنیا کا ہونے لگا ہے فیض یاب | عام ہر سُو ہو گیا فیضانِ سُنَّت زندہ باد(1) |

## د شعبه جاتو اپډيټ کارکردګي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ستاسو خپل دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي دا وخت د اتياؤ [80] نه پهٔ زياتو شعبو کښې د دِين خدمت کوي ❁ د کنزُ الـمدارس بورډ پهٔ نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعليمي بورډ دے ❁ په زرګاؤ جامعات او مدارِسُ الـمدينه (د هلکانو او جينکو) ***(Boys & Girls)*** د پاره قائم دي، پهٔ کومو کښې چې په لاکهونو طَلَبه و طالِبات د حفظ او ناظرې، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات ***(Specialization)***، فرض علوم کورسز کولے شي ❁ په فيضان آن لائن اکيډمئ کښې پهٔ زرګاؤ طلبه و طالبات ديني تعليم حاصلوي ❁ ډيرې دار الافتاء اهلسنت جوړ کړے شوي ❁ د الـمدينةُ العلميه ***(Islamic Research Center)*** پهٔ ذريعه پهٔ ديني لټريچر باندې تحقيقي کار کيږي، ❁ د ديني لټريچر چاپ کولو د پاره دعوتِ اِسلامي خپله اشاعتي اداره مکـتبة الـمدينه جوړه کړې ده ❁ پهٔ ټوله دُنيا کښې د ديني کارونو کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي پوره تنظمي سيټ اپ دے، د ذيلي حلقے نه واخله تر مرکزي مجلسِ شُورٰی پورې يو نظام جوړ دے، ښار پهٔ ښار، کلي پهٔ کلي ذمه داران موجود دي ❁ د عاشقانِ رسول تربيت کولے

1...مناقب عطار، صفحه:1615 ملتقطاً-

شي او دوئي د ديني کارونو د پاره ملک او بهر ملکونو ته ليږلے شي، دوئي ته باقاعده تنخواګانې ورکولے شي او هغوئي فَارِغُ البَال (يعنې د ګټې وټې د سوچ نه بے پروا) کيدو سره د دِين خدمت کوي ❁ د ميډيا پۀ مختلفو پليټ فارمز هم د دِين د خِدمت لړۍ روانه ده ❁ پۀ پرنټ ميډيا کښې د ډيرو کتابونو او رسالونو سره سره د ماهنامه فيضانِ مدينه د چاپ کولو لړۍ جاري ده کومه چې دا وخت پۀ 7 مختلفو ژبو کښې چاپ کيدونکې کثير الاشاعت مياشتنۍ [يعنې ماهنامه] ده) ❁ سوشل ميډيا (مثلاً، يوټيوب (***YouTube***)، فيس بک (***Facebook***)،انسټاګرام(***Instagram***)وغيره باندې موجود تقريباً 100 اکاؤنټونه، پۀ کومو باندې چې ميليئنز (***Million***)يعنې په کروړونو فالورز (***Followers***)دي او د ويوز شميره پۀ بيليئنز (***Billions***) کښې ده- ❁ د دې نه علاوه په مَدَني چينل اُردو، انګلش، بنګله ژبو کښې، کِډز (***Kids***) مَدَني چينل، د مشرانو د پاره مَدَني چينل او د عربۍ د ويب چينل پۀ ذريعه د دِين اِسلام خدمت کولے شي ❁ د آئي ټي شعبے د طرف نه ډير موبائل ايپلي کيشن او اِسلامک ويب سائټس جوړ کړے شوي دي ❁ پۀ ټوله دُنيا کښې د مسلمانانو د خير خواهۍ د پاره د ايف جي آر ايف شعبه جوړه ده، د کومې د لاندې چې ❁ په لاکهونو وَنې نالې کړے شوې دي ❁ تقريباً د لاکهونو ګسانو امداد شوے دے ❁ په زرګاؤ کورونه جوړ کړے شوي دي ❁ په زرګاؤ د وينې ډراپونه عطيه کړے شوي دي-

دعوتِ اسلامی کی قَیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم
اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یا اللہ مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اِسلامي ملاتړ وکړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!تاسو هم د دِين پۀ دې کار کښې د دعوتِ اِسلامي ملاتړ وکړئ! د نيکۍ د دعوت ورکولو عادت جوړ کړئ! ❁ پۀ هفته واره اِجتماع کښې پۀ پابندۍ

سره شرکت کوئ! ❀ پهٔ 12 دِيني کارونو کښې ښه ډيره برخه اخلئ! ❀ يو ډير اهم دِيني کار: **قافله**- که دا مونږه مضبوطه اونيسو نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيم! پهٔ دُنيا او پهٔ اخرت کښې به مو ډير خيرونه نصيب شي-

❀ پهٔ قافله کښې فرض عِلمِ دِين ښودلے کيږي ❀ سُنَّت ښودلے کيږي ❀ د تهجدو کولو سعادت ميلاويږي ❀ د نيکئ د دعوت عام کولو موقع ميلاويږي ❀ د قافلې پهٔ برکت سره د ځاګانو پوره کيدو ❀ د سختو لرې کيدو ❀ د بيمارانو د شفا نصيب کيدو هم پهٔ سوونو واقعات دي ❀ داسې هم شوي دي چې پهٔ مَدَني قافله کښې د سفر کوونکو عاشقانِ رسول د ډاډګيرنې د پاره خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم فرمائيلے دے، پهٔ خوب کښې يې تشريف راوړے دے او پهٔ قافله کښې برخه اخستونکو له يې ديدن ورکړے دے-

چې مونږ پهٔ قافله کښې سفر وکړو نو څهٔ پته چې پهٔ مونږ باندې هم کرم وشي- کم از کم هره مياشت د 3 ورځو پهٔ مَدَني قافله کښې د سفر نيت وکړئ! راځئ چې د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے واورو:

## د باغ ځانګو

د حيدر آباد پهٔ يوه محله کښې د علاقائي دورې د دعوت نه د متاثره کيدو سره يو ماډرن ځلمے جومات ته راغلو- پهٔ بيان کښې پهٔ مَدَني قافلو کښې د سفر کولو ترغيب ورکړے شو نو هغهٔ پهٔ مَدَني قافله کښې د سفر کولو د پاره نوم وليکو- د قافلې پهٔ روانيدو کښې لا يو څو ورځې پاتې وې چې هُغه ځلمے وفات شو- پهٔ کور والؤ کښې يو ګس هغه پهٔ خوب کښې پهٔ داسې حالت کښې وليدو چې هغه پهٔ يو شين باغ کښې ډير خوشحاله دے او پهٔ ځانګو کښې ځانګي- خوب ليدونکي ترينه پوښتنه وکړه چې دلته څنګ راغلې؟ هُغه ځلمي جواب ورکړو چې د دعوتِ اِسلامي د مَدَني قافلې سره راغلے يم، **الله** پاک ډير کرم

فرمائیلے دے، زما مور ته ووایه چې زما غم نه کوي، زهٔ دلته ډیر پهٔ سکون کښې یم۔

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو
پاؤگے بخششیں قافلے میں چلو | جنّتیں بھی ملیں، قافلے میں چلو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

راځئ چې د دعوتِ اِسلامي سره پهٔ شریکه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت عام کړو۔ **الله** پاک دې د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

میں مُبَلِّغْ بنوں سُنّتوں کا خوب چرچا کروں سُنّتوں کا
یا خُدا! درس دوں سُنّتوں کا ہو کرم بہرِ خاکِ مدینہ

## د یومِ دعوتِ اسلامي خصوصي شماره

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** اَلحمدُلِلّٰہ! دعوتِ اسلامي چې د کوم وخت نه شروع شوے دے د **الله** پاک او د هغهٔ د خوږ حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په فضل او کرم سره مخ په وړاندې روان دے، دا ځل دعوتِ اسلامي خپل **44 کلن یومِ تاسیس** مناوهي، په دې موقع به شعبه ماهنامه فیضانِ مدینه خصوصي ماهنامه فیضانِ مدینه پهٔ نو د **"فیضانِ دعوتِ اسلامي"** پیش کوي، په کوم کښې به چې تاسو د دعوتِ اسلامي د تر اوسه پورې د کوششونو او کامیابیانو په باره کښې لوستلے شئ او د دې نه علاوه: ❁ د جومات د درس ضرورت او اهمیت او د دې نه حاصلیدونکې فائدې❁ په قافلو کښې د سفر فائدې او ثمرات❁ د اوسني دور پیشِ نظر د ډیجیټل لائبریری نظام او د دعوتِ اسلامي اقدام❁ د دعوتِ اسلامي د بین الاقوامي خدماتو یو څو اړخونه❁ مدني چینل ماشومانو، ځوانانو او بوډاګانو ته څه فائدې ورکړې؟ د دې نه علاوه به نور هُم ډیر څه زده کړئ۔ دا خصوصي شماره د مکتبةُالمدینه د هر

شاخ نه د 50 روپۍ په قيمت حاصلولے شئ۔

## دارُ الاِفتّاء اهلسُنَّت ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د عِلمِ دين پۀ فيضان عام کولو کښې مصروف دے، د دعوت اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: ***Darul Ifta Ahlesunnat*** (دار الافتاء اهلسنت)۔ پۀ دې ايپلي کيشن کښې به تاسو ته ميلاويږي: پۀ کُنِ شمير د مذهبي او معاشرتي پوښتنو ليکلې فتاوىٰ ❁ د عقيدو پۀ باره کښې حکمونه ❁ د قرآن او حديث پۀ باره کښې حکمونه ❁ د اوداسۀ، غسل او د ناپاکۍ حکمونه ❁ د نـمونځ پۀ باره کښې مسئلې ❁ د مَړي پۀ باره کښې مسئلې ❁ د دعوتِ اِسلامي د مفتيانو صاحبانو اهم تربيتي او معلوماتي ويډيوکليپس او بيانونه ❁ پۀ معاشرتي او مذهبي اړخونو باندې د لار ښودنې مختلف آرټيکلز (***Articles***) او کتابونه ❁ د مفتيانو صاحبانو پۀ مختلفو علمي، تربيتي او شرعي معلوماتو مشتملې سلسلې ❁ تجارت کورس، د فرض علومو کورس ❁ او ډير څۀ۔ دا ايپلي کيشن پۀ خپل موبائل کښې انسټال کړئ! پخپله ترينه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ د رَبيعُ الاول شريف مياشت روانه ده۔ اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد اِلياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د دولسم شريف پورې پرله پسې مَدَني مذاکرې فرمائي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکرو کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له هم د شرکت دعوت ورکړئ ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د محبتِ

رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رسالې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **الله** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر ***(Share)*** کړي!

❀ عوامُ النَّاس خاص طور د سکول او کالج د طالبِ علمانو د پاره د سيرتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ موضوع باندې ليکلے شوے د المدينة العلميه بهترين او مختصر، ايوارډ اخستونکے کتاب پۀ نوم: **پیارے نبی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کی پیاری سیرت**- مکتبة المدينه د چاپ کولو سعادت حاصل کړے دے- تاسو دا کتاب د مکتبة المدينه د هرې څانګې نه حاصلولے شئ- د دې کتاب نارمل هديه رنګين يعنې کلر والا **230 روپۍ** او ساده **190 روپۍ** ده خو د **1500 د جشنِ ولادت** د ورځې د خصوصي لوئي ډسکاؤنټ پۀ آفر باندې تاسو دا رنګين **193 روپۍ** او ساده **159 روپۍ** کښې حاصلولے شئ- دا کتاب پخپله هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

❀ د 1500کلن جشنِ ولادت پۀ خوشحالۍ کښې د مکتبة المدينه شاندار پيشکش- **د 25 صفر شريف د يومِ اعلیٰ حضرت** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ **(19 اګست) نه تر د يومِ تحفظِ عقيدۀ ختمِ نبوت (7 ستمبر)** پورې يعنې **د عُرسِ اعلیٰ حضرت** نه تر يومِ **تحفظِ عقيدۀ ختمِ نبوت** د مکتبة المدينه ټول پروډکټس پۀ 15 فيصده خصوصي ډسکاؤنټ باندې حاصل کړئ! دغه شان پۀ دې عظيمه موقع باندې مَدَني جنډا (د هر سائز) ❀ د موټر سائيکل ❀ موټر ❀ د ميز جنډې ❀ فلاور اِسټک ❀ اور د زرۀ راښکونکو نعلين شريف بيجونه ❀ او پۀ جشنِ ولادت کښې د دعوتِ اِسلامي د بينرو آرډر هم د مکتبة المدينه پۀ دکانونو کښې ورکولے شئ- تادي وکړئ، د جشنِ ولادت تياري هم وکړئ او فائده هم حاصله کړئ!

## پہ اجتماعِ ميلاد او جلوسِ ميلاد کښې د شرکت ترغيب

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د خوږ خوږ آقا مکّي مَدَني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ميلاد

شريف تاريخ تشريف راوړونكے دے، اَلحمدُلِلّٰه! د دعوتِ اسلامي زيرِ اهتمام د ميلاد په شپه عظيم الشان اجتماعِ ميلاد كيږي، په كوم كښې چې نعت خواني هم كيږي، بيان هم كيږي او د آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقان پۀ خپل آقا او مولا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې په ډير شوق او ذوق سره د درودِ پاک نذرانې پيش كوي، او صلوة او سلام وئيلو سره د صبح بهاران [يعنې د سهار د سپرلي] استقبال كوي، تاسو هم په دې اجتماع كښې او په دولسم شريف كيدونكي جلوسِ ميلاد كښې لازمي شركت اوكړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ۞ د ډير ډير درودِ پاک لوستلو ۞ د نعتونو اوريدلو ۞ د خپل آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذكرِ خير اوريدلو او د آمدِ مصطفٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښكلو نعرو وهلو سعادت به حاصل شي۔

| | | | |
|---|---|---|---|
| 1500 كلن جشنِ ولادت | مرحبا! صد مرحبا! | راغلو شاهِ ختمِ نبوت | مرحبا! صد مرحبا! |
| راغلو تاجدارِ رسالت | مرحبا! صد مرحبا! | راغلو جهان ته لوئي رحمت | مرحبا! صد مرحبا! |
| صاحب د عظمت او شان او شوكت | مرحبا! صد مرحبا! | ټولو نه لوئي د اللّٰه نعمت | مرحبا! صد مرحبا! |
| آمِنه وځليدو ستا قسمت | مرحبا! صد مرحبا! | ستا غيږې ته راغلو د رب رحمت | مرحبا! صد مرحبا! |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان پۀ اخره كښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی كَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وكړو هغۀ زما سره محبّت وكړو او چا چې زما سره محبّت وكړو هغۀ به پۀ جنّت كښې زما سره وي- (1)

سينه تيری سُنّت كا مدينه بنے آقا! | جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

## سخاوت د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دے

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين مبارک: (1)**: سخاوت کوونکے **الله** پاک ته هم نزدې دے، جنَّت ته هم نزدې دے، خلقو ته هم نزدې دے او د دوزخ نه لرې دے۔ [1] **(2)**: سخاوت د جنَّت يوه ونه ده د کومې ښاخونه چې د زمکې طرف ته راښکته شوي دي کوم کَس چې پۀ هغې کښې يو ښاخ اونيسي، هغه به هغه د جنَّت طرف ته بوځي۔ [2]

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو! سخاوت د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **سُنَّت** دے ❁ د سخيانو سخي، مکي مَدَني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کائنات د ټولو نه لوئې سخي وو، د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سخاوت د وخت سره خاص نۀ وو بلکې هغوئې به هميشه سخاوت فرمائيلو، د عِلمِ د تقسيمولو، د مال د تقسيمولو، د **الله** پاک د رحمت سخاوت به يې فرمائيلو، د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ شان سخي نۀ څوک تير شوے دے او نۀ به تر قيامته پورې راشي چې چا ته هم کوم نعمت ميلاؤيږي، ورکوي يې **الله** پاک خو تقسيم يې قاسِمِ نعمت مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي:

نہ اُن کے جیسا غنی ہے کوئی، نہ اُن کے جیسا سخی ہے کوئی
وہ بےنواؤں کو ہر جگہ سے نوازتے ہیں بُلا بُلا کر

❁ د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دولت خانې نه به يو سوالګيرے هم خالي لاسونه نۀ تلو، حضرت جابِر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: سوالګيري که به د هر څومره لوئې څيز سوال کولو، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به اِنکار نۀ کولو۔ [3] ❁ حضرت اِبنِ عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهما فرمائي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو انسانانو نه زيات سخي وو، د **روژې**

---

1 ...ترمذی، سخاوت کا باب، صفحہ:479، حدیث:1961۔

2 ...شعب الایمان، سخاوت کا باب، جلد:7، صفحہ:434، حدیث: 10875۔

3 ...کتاب الشفا، 92/1۔

مبارکې پۀ میاشت کنبې به د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سخاوت دریاب پۀ ډیر جوش کنبې راتللو د روژې مبارکې پۀ میاشت کنبې به د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سخاوت د تیزو هواګانو نه هم تیز وو- (1)

مانگیں گے مانگے جائیں گے منہ مانگی پائیں گے
سرکار میں نہ لا ہے نہ حاجت اگر کی ہے (2)

اللّٰه پاک دې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سخاوت پۀ برکت مونږ غریبانانو، بے وسو ته هم د کنجوسۍ نه د بچ کیدو او ښۀ د زړۀ د اِخلاصه د سخاوت کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدینه د بهارِ شریعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د 91 صفحو رساله 550 سنتیں اور آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کنبې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو
گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو (3)

اللّٰه پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1... سیرت مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم، سخاوت، صفحه:623۔
2... حدائق بخشش، صفحه:225۔
3...وسائل بخشش، صفحه:669۔

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمعې او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو د کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

### ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته کړے شي.[2] راځئ

1…افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا
2…القول البديع، الباب الثانی، ص٢٧٧

چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِىْ عِلْمِ اللهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

---

1 ... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص ١٤٩

2 ... القول البديع، الباب الاول، ص ١٢٥

3 ... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ٣٢٩/٢، حديث: ٣٠

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

2... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵